مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی ۲۰۲۱/۱۰/۱۲

غزل

پښه نیولي مي دلبره خواته راغله
ښایسته سپینه کوتره خواته راغله

مړو کتو کښې یې د سترګو څومره زور دی
دا د مینې سر لښکره خواته راغله

د سیلۍ او د طوپان مسته څپه ده
د سپلاب نه زوروره خواته راغله

چې مئېن شي په عالم خیال د ړندو کړي
بیا د زړونو بازګیره خواته راغله

رنګ مي زیړ لکه زعفران شو په لیدو یې
چې ظالمه ستمګره خواته راغله

دا جونګړه مي د زړه په ورانیدو شوه
چې ناڅاپه، نابېره خواته راغله

نه یې دم نه یې دوا شته پسرلیه
دا د مینې سحرګره خواته راغله

مصطفی پسرلی
11/Oct/2021

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ